مورچل

زمونږ پر ديني او افغاني ارزښتونو برېدونو تداوم !!

کاروان ذلت بار ضد جهادی!

نهم کال دويمه کڼه . پرلپسې (۷۸) يمه . ربيع الثاني ۱٤۳٦هـ ق . فروري ۲۰۱۵م

شکست امریکا خوړلی ، که طالبانو؟

افغان پوځيان ولي داردو له ليکو تښتي؟!!

د يوه فدايي مجاهد له پلارسره د مورچل خواله

مورچل

نهم کال دویمه گڼه پرلپسې ۷۸ یمه گڼه ربیع الثاني ۱۴۳۶هـ.ق فروري ۲۰۱۵ ز

علمي، سیاسي او جهادي میاشتنۍ خپرونه

لړلیک

گڼه	مطلب	مخ
۱	زمونږ پر دیني او افغاني ارزښتونو د بریدونو تداوم..	۱
۲	افغان پوځیان ولې دا ردو له لیکو تښتي.....	۳
۳	د اسلام غزوات او سرایا.....	۵
۴	نامتو مسلمان فاتحین.....	۹
۵	پر نړیوالې میډیا د مذاکراتو ډنډوره او ترشاه یې ...	۱۵
۶	کاروان ذلت بار ضد جهادي.....	۱۷
۷	شکست امریکا خوږلی، که طالبانو!.....	۲۱
۸	د جهاد فقهي مسایل.....	۲۴
۹	عمر رض کلید مسجد اقصی را تحویل می گیرد...	۳۰
۱۰	د یو فدایي مجاهد له پلار سره خواله.....	۳۲
۱۱	څو شیبې له خپل ولس سره	۳۵
۱۲	جنګي جنایتونه.....	۳۸
۱۳	هر گردی گردو نیست.....	۴۰
۱۴	د شهید سید عبدالمالک آغا ژوند ته کتنه.....	۴۲
۱۵	د قرآن کریم په رڼا کې د زور خپګان علاج.....	۴۸
۱۶	ددعوت، ارشاد او جلب جذب کمیسیون.....	۵۱
۱۷	خبرونه.....	۵۳
۱۸	د مورچل ویې.....	۷۰

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکـــور (شفق)

کتـــنپلاوی

حـــسن خپل | ایـــوب صـــافی
حـــسن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مـــسافر | حافـظ سـعـید

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل بنار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر

E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

زمونږ پر دیني او افغاني ارزښتونو

د بریدونو تداوم!!

زمونږهیواد چې دپیرنګیانو او روسانو غوندې تل دنړیوالو یرغلګرودناتار او بیا ددوئ دماتې دډیرو پیښو شاهد دی ، هر زور واک پرې خپله سینه یخه کړي ده او دلتهپې ډیرې ترخې خاطرې دیوه بد میراث په توګه افغان ولس ته پریښې دي ،مګر تردې ډیر مفتضحانه یرغل او له شرمه ډک تجاوز امریکایانو او ددوئ ائتلافي ملګرو وکړ،چې نه یوازې داچې افغانستان کې یې دیوه مشروع حکومت په توګه اسلامي امارت سره تصادم وکړ،بلکې زمونږ ټولنه چې له پیړیو پیړیو راهیسې داسلامي او افغاني کلتور سره بلده اوددې نه پرته بل هر خارجي کلتور واردولوته دیرغل او تیري په سترګه ګوري، خو بیا هم په ډیره بې شرمۍ امریکایانو او نورو غربیانو هڅه وکړه، چې په یو نه یو ډول دلویدیځ حیواني کلتور پداسې بڼه دلته ترویج کړي، چې دوګروپه ذهن کې (خدای ج مکړه)مسلط اسلامي دود او افغاني کلچر سپک او ددې عصر وزمان له مقتضیاتو څخه عاري یې وښایي!

جهاد، چې هم مو دیني اوهم مو روایتي اصل دی او دیرغلګرو دښمنانو په مقابل کې به مو ،لومړی نیکونواواوس مونږ دیوې پیاوړې وسلې په حیث کاراوه ،له بده مرغه چې یرغلګرو یې نوم په ترهګرۍ!! بدل کړ، او دادی دافغانستان دپوهنې له تعلیمي نصاب څخه یې هم هغه آیتونه وایستل، چې دجهاد ترغیب پکې نغښتی و ،داسې کوشش هم روان دی، چې یرغلګراو غلامانو یې دافغانانو څخه دخپلو اسلافو دمیړانو کارنامې هیرې کړي او دبیا لپاره راتلونکې نسل کې دجهاداو خاورې نه ددفاع روحیه دتل لپاره یا کمزورې او یا(خدای ج مکړه)ووژني !

یرغلګر پردې ښه پوهیږي ،چې دافغانستان غوندې په یوه روایتي اسلامي او افغاني ټولنه کې دښځې ،حجاب او سترغوندې عنعنات ناموس او تړې ننګه دافغاني کلتور یوه سترهبرخه ده، چې ددې ناموس پرسر شخړې آن کله نا کله دسرونو په قیمت هم پای ته نه رسیږي ،او کوم څوک چې ددې ناموس اهانت یا سپکاوی وکړي ،نو دکور شپه یې په ګورشي .

له پيله غربيان او امريکايان پدې هڅه کې وو او دي ،چې همدا ديني او ملي ارزښتونه دغرب دسوليدلې کلتور ترسيوري لاندې راولي اودافغانانو په ذهن کې دا زهر ورپيچکاري کړي، چې ستر او حجاب زوړ دود او ددې مترقي پيرايجابات نشي پوره کولای ،ديرغلګرو په نظر ښځه هم لکه دنر په شان له ستر او حجاب نه په غير دکوراوصحرا وظايف سرته رسولای شي او بايد دنرانو سره په دفتر ،بازار، کوڅه او دبي حيايي په هرچم کې برخواله وي ،دوئ د دې نادرست هدف لپاره ډيرې پيسې هم مصرف کړي او اوس هم چې په هر قيمت وي خپلې شومې هڅې ددې لپاره جاري ساتي.

له بده مرغه چې امريکايان او عام لويديځوال افغاني ټولنې ته دلويديځ له عينکو ګوري ، او بې ستړې او بې حجابي دښځو دحقوقو خورا مهم فکتور بولي ،مګر دلته چې ديني او عنعنوي ثقافت شتون لري او افغاني ميرمنې يې دخپل عزت او حياء ضامن بولي ،دلويديځوالو وارداتي تهذيب هسې يوه (هيولا) غوندې له تقليده پاتې شي او هواداران يې داوبو دځګ غوندې هم لږ اوهم پيکه شي.

دې وروستيو کې کابل کې دلويديځوالو په مرستو جوړو شويوپه اصطلاح دمدني ټولنو ځوکسو نارينه وو (اهانۀ) دښځو برقي پرسر کړي وي او دبشر دحقوقو دسازمان مخې ته يې دحجاب پرخلاف مارش وکړ، چې دا کار که ديوې خوا ،هم پراسلامي اوهم پر افغاني ارزښتونو مستقيم يرغل او د مجاهدولس له افکارو سره سراسر په تضاد کې و ،نو له بل طرف دې ګوتشميرو پلورل شويو ځيرو نړيوالو تلويزيونو ته داسې ويډيوچمتو کوله، چې ګوندې دوئ داسلامي حجاب سره مخالف اوسپکاوي ته يې متې نغښتې دي .

همداسې دتفريح ،موسقيت، عسکري کارونو اوسپورتي لوبوپه حيلو او بهانوافغاني ښځې دلويديځې بې ديني ټولنې دښځو غوندې هڅول او دهغو په شان دخپلو روایاتو خلاف روحيه ورکول هغه بيلګې دي ، چې ښايې امريکايان او بهرنيان په لوی لاس داسې غيراسلامي او غير افغاني کلتور ته لاپسې وده ورکړي او غواړي ،ددې لارې ځخه زمونږ مهذبه ټولنه دبدګمانيو او بدلمنيو ښکار کړي او اسلامي تهذيب مو دخارجي هغې تر پوښښ لاندې راولي !

داهغه ارزښتونه وو ، چې خارجيانو داسلامي امارت سره د(۱۳۷۱هـ ش او ۱۳۷۵هـ ش)کلونو په اوږدو کې مکرړ شاربلي او تړې داسې غوښتل، لکه دا نن چې کابل کې جريان لري ، خو اسلامي امارت به ورته دشريعت له عينکونه ځواب وايه، اوهيڅکله يې هم ددوئ دا ناروا غوښتنې ونشوای منلې ،اوس چې دهمداسې ارزښتونو دپيکه کولواو دافغانانو ځخه دحريت دسلبولوپه موخه دشين سترګو لښکرې لا هم مو خپلواکه جغرافيه ګوابني، ليرې به نه وي، چې ارمانونه يې له خاورو سره خاورې اوافغانان دخپلو ديني ارزښتونواو اصيل فرهنګ داحياء او بيا رغونې لاروکې ددوئ شوم عزايم نطفه کې خنثی او ددوئ پاتې شوني ټيټې سترګې اوځورند سرونه دتيښتې لاره خپله کړي !

افغان پوځيان ولې د اردو له لیکو تښتي؟!!

شاهد (غزنیوال)

د مارچ د میاشتې په ۴ نیټه په افغانستان کې د امریکایي مرستو خارونکي اداري (سیګار) په خپل وروستي رپوټ کې پر دې اعتراف وکړ چې په تیرکال کې ۱۵۰۰۰ افغان پوځیان له خپلو دندو تښتیدلي.

سیګار په دغه رپوټ کې ویلي چې هغه سرتېري چې تېر کال د پوځ له لیکو څخه تښتېدلي او یایې دنده پرېښې ده د افغان ملي اردو د ټولو تشکیلاتو ۸.۵ سلنه جوړوي.

همداراز سیګار په یاد رپوټ کې لیکلي چې د ۲۰۱۳ کال د سپټامبر څخه د ۲۰۱۴ کال تر سپټامبره د اردو له تشکیلاتو څخه ۴۰ زره نومونه حذف شوي دي، نوموړې اداري په دې اړه چې دا د کومو کسانو نومونه دي څه نه دي ویلي، خو ښایي هغه سرتېري چې تښتېدلي، دنده یې پرېښې، معیوب شوي، وژل شوي او یا هم له وظیفې ګوښه شوي دي په دغه نوملړ کې شامل وي.

ملي اردو هغه خواک دی چې امریکایانو د افغانستان د اشغال په مهال تر ټولو زیاته پانګونه پر دې خواک کړې، د سیګار د مستندو ارقامو له مخې امریکایانو تر اوسه د افغانستان د اردو پر روزنې او سمبالونې څه د پاسه ۳۴.۸ میلیارده ډالره.لګښت کړی دی، خو نن هماغه په لوړ قیمت روزل شوي خواکونه یا د اردو له لیکو په تیښته دي او یاهم د هرممکن فرصت په مهال خپلې وسلې د خپلو روزونکو (امریکایانو) پر لور وراړوي او وژني یي.

تر اوسه پوري چې پر امریکایانو ډېر مرګوني بریدونه شوي او یا یې هغوی له وارخطایي سره مخ کړي هغه همدا د افغان خواګونو په منځ کې نفوذي کسان دي چې د هیواد په مختلفو برخو کې یې پر خارجي یرغلګرو بریدونه ترسره کړي او هغوی له منځه وړي.

یو شمیر هغه بې روحیې او بې هدفه افغان خواګونه چې یواځې د مادي امکاناتو او څو ډالرو په مقابل کې د ملي اردو لیکوته ورغلي هغوی د معمولي خطر په حس کولو سره دیته مجبوریږي چې د اردو له لیکو وتښتي.

هو! د مجاهدینو لخوا د نوي عملیاتي کال په پیلیدو سره به نور هم خارجي یرغلګر او دهغوی مورال بایللي ملاتړي د جګړې له ډګره تښتي او ساحه به ټري تصفیه کیږي.

اوس چې راتلونکي نوي هجري لمریز کال ته محدودې شپې ورځې پاتې دي ،ښایي د هغه په رارسیدوسره نورهم د داخلي مزدورانو مورال ولویږي.

نوی کال په داسې حال کې زمونږ پرهیواد راځي چې دلته بهرني پرغلګر د مجاهدینو کفر ځپونکو بریدونو ښه ځپلې او په منډو کړې دي .

همدا لامل دی چې دمجاهدینو د فولادي ګوزارونو له برکته مو همدا اوس د هیواد ډیری برخه د پرغلګرو له اشغاله پاکه شوې ده.

هغوی اوس د مجاهدینو د ګوزارونو له ویرې یواځې په خپلو لویو مرکزي ځالو (اډو) کې را غونډ شوي دي.

په راتلونکي نوي کال کې به د لوی الله جل جلاله په نصرت د هیواد پاتې برخې هم د پرغلګر دښمن له ناولي اشغال څخه تصفیه کیږي.

بهرني پرغلګر او دهغوی داخای ګوډاګیان کوښښ کوي د تبلیغاتو له لارې خپلو موراړ بایللو ځواکونوته روحیه ورکړي .

د روان کال د کب د میاشتې په ۱۲ نیټه د کابل د مزدور رژیم د دفاع وزارت اعلان وکړ چې راتلونکی نوی کال به داخلي ځواکونه د لومړي ځل لپاره په یوازیتوب عملیات کوي .

د مزدور رژیم د دفاع وزارت دغه اعلان په حقیقت کې هغوی ته یو مصنوعي موراړ ورکول دي ، کنه هم امریکایان او هم دهغوی لاس پوڅي پردې خبره ښه پوهیږي چې هغه داخلي مزدور ځواکونه کوم چې هم یې جنګي موراړ له لاسه ورکړی او هم هیڅ ډول تسلیحاتي وړتیا نه لري په هیڅ ډول په یواځیتوب له مجاهدینو سره د مقابلې توان نه لري .

ټول پوڅي او د محاربوي تعلیماتو ماهرین پر دې نظر دي ،چې د محاربي په ډګر کې پوڅي موراړ او د مقاومت انګیزه د موفقیت اساسي عامل او د محاربي په ګټلو کې ستر اغیز لري.

افغان مزدور ځواکونه چې د اجنبیانو په دستور او دهغوی په اُجرت د خپل هیواد او ولس پرخلاف جنګول کیږي نه جنګي موراړ لري او نه هم محاربوي روحیه .

همدا لامل دی چې یا له مجاهدینو سره تر مقابلې وړاندې د جګړې له ډګره د خان ژغورلو په خاطر تښتي او یاهم له هغوی سره د مقابلې پر مهال شکست خوري .

راتلونکی عملیاتي کال چې حتما به په محاربوي لحاظ له نورو کلونو سره خاص تو پیر لري د مزدور رژیم ماتې خوړلي ځواکونه به نورهم د ملي اردو له لیکو څخه تیښتې ته مجبوریږي ؛ ځکه هغوی پوهیږي چې هغه مجاهدین چې د هیواد پالنې په روحیې سمبال دي د محاربې ګټلو دومره توان لري چې د امریکا او ناټو په خیر مجهزو او پر مختللیو پوځونو یې مقابله ونکړای شوه .

نو هغه افغان ملي اردو چې له مجاهدینو سره نه دمقاومت روحیه لري او نه دخارجي ځواکونو په خیر پوڅي تسلیحات لري ځرنګه به د محاربې په ډګر کې له هغوي سره مقابله وکړای شي؟.

ابوظهیر

۳۰مه برخه

د اسلام غزوات او سرایا

احد کې د مسلمانانو د شکست ! پټ اسرار !

په احد جنګ کې مسلمانانو لپاره شکست اوماتې دالله(ﷻ) په ازلي علم کې مقدروه، که څه هم په وختي توګه دمسلمانانو زړونوته صدمه ورسېده، اوپه ظاهره د ځاني اومالي زیانونو سره مخ شول، خو دېر ژر الله(ﷻ) دهغوی په زخمي زړونو دملهم پتي کېښودي،هغه داسې چې په نیږدې کې دمکې په فتحه کولو، دقیصر- اوکسرى دحکومتونو په رنګولو او دهغوی دخزانو په لاسته راتلو داحد ورځې زیانونه جبیره کړل، ددې شکست غرض دا و چې څو دهغوی (دالله د خاصو بنده ګانو)زړونه ددنیایي مال ومتاع له مینې څخه پاک کړای شي، الله(ﷻ) فرمایي:

وَلَقَد صَدَقَكُم اللَّهُ وَعدَهُ إِذ تَحُسُّونَهُم بِإِذنِهِ حَتى إِذَا فَشِلتُم وَتَنَازَعتُم فِي الأَمرِ وَعَصَيتُم مِن بَعدِ مَآأَرَاكُم مَاتُحِبُونَ مِنكُم مَن يُرِيدُ الدُنيَا وَمِنكُم مَن يُرِيدُ الاخِرَةَ ثُمَ صَرَفَكُم عَنهُم لِيَبتَلِيَكُم وَلَقَد عَفَا عَنكُم وَاللَّهُ ذُوفَضلٍ عَلَى المُؤمِنِين(ال عمران۱۵۲ ایت)

اوخامخا په تحقیق سره ربښتیا کړه،تاسي ته الله وعده خپله،په هغه وخت کې کله چې وژل تاسې کافران په اذن (حکم) دالله سره، ترهغه وخته پورې چې بې زړه شوئ تاسي او(پخپلو منځو کې) سره مخالف شوئ په امر(دنبي) کې اونافرماني وکړه تاسي له هغه وروسته چې در وښود تاسې ته (الله) هغه شی چې ستاسي خوښ و(له نصرت او غنیمت څخه)ځیني له تاسي هغه دي چې خوښوي دنیا (داژوندون) اوځیني ستاسي هغه دي چې خوښوي اخرت،بیا (الله) وګرځولئ تاسي له کافرانو څخه (په تیښته سره) له پاره ددي چې وازموئي تاسي او هرو مرو (خامخا) په تحقیق عفوه وکړه، (الله تاسي ته(یا) اوخامخا په تحقیق عفوه وکړه (الله) له تاسي (چې تول یې پردوی قتل نکړئ) او الله څښتن (مالک) دلوی فضل دی دی پرمؤمنانوباندې.

په دې ایت کې الله(ﷻ) دا وښوده چې دمسلمانانو هغه لښکر چې دکافرانو دلښکر په وژلو لګیاو، ناڅاپه معامله سرچپه واوښته،

دکافرانو لښکر دمسلمانانو لښکر په وژلو شروع وکړه،ددې یوه وجه دا وه، تاسي درسول الله(ﷺ) نه دحکم نه سرغړونه وکړه، اوپه تاسو کې ځینې کسان ددنیا (غنیمت)خوښولو په وجه داستقامت له غره ښکته شول چې له املې یې ټول اسلامي لښکر ته صدمه ورسیده او دځوتنو لغزش په وجه ټول اسلامي لښکر دهزیمت ښکار شو.

انا للهِ وانا الیه راجعون

خو ددې باوجود دالله(ﷻ) دمهربانیو او لورینو لړې قطع نشوه،او ورته د محبت نه په ډکه لهجه دعتاب په اړه بیا بیا مسلمانانو ته ډاډ ورکوي، چې نهبلي کبړئ مه ، مونږ ستاسي لغزش ښبلی دی لکه په دې لاندې ایت کې :

وَلَقَد عَفَا اللهُ عَنكُم وَاللهُ ذُوفَضلٍ عَلَى المُؤمِنِين

اوبیا دهمدې رکوع په پای کې یې مسلمانانو ته دنورې تسلې ورکولو لپاره دویم وار عفوه اعلان کړه:

اِنَّ الَّذِينَ تَوَلَّوا مِنكُم يَومَ التَقَى الجَمعنِ اِنمَا استَزَلَهُم الشَيطنُ بِبَعضِ مَاكَسَبُوا وَلَقَد عَفَا اللهُ عَنهُم اِنَّ اللهَ غَفُورٌ رِحِيم.

بیشکه هغه کسان(له تاسي)چې وګرځیدل دوی(له جنګ)په هغې ورځې کې چې مخامخ شول سره دواړه فوځونه بیشکه هم داخبره ده چې ښویولي وو، دوی شیطان په سبب (دشامت) دځینو هغو ګناهونو چې کړي وو،دوی، اوخامخا په تحقیق عفوه کړیده الله له دوی نه بیشکه الله ښه مغفرت کوونکی (دخطاء ګانو) ښه تحمل کوونکی دی.

الله(ﷻ) صحابه وو(ﷺ) ته د دغه فعل یا لغزش یادونه وکړه،د "اِستزلهم الشیطن" لفظ په همدې دلالت کوي، دلغزش معنی داده چې اراده دبل څه وه، او غلطې دارادې او اختیار پرته له لارې د قدم ښویدل دي، یعنې چې کوم څه پیښ شول هغه لغزش و، قصداً تاسو ندی کړی، خو هرڅه چې پیښ شول هغه مونږ دخپل رحمت اومهربانی له مخې ټول وبښل، تاسو ته مو دبښنې په اړه خبر درکړ،څو تاسو غمژن او نهېلي نشئ! اوستاسي دبښنې اعلان مو ټولې نړۍ ته وکړ،څو معلومه شي چې الله (ﷻ) درسول الله (ﷺ) په ملګرو نهایتي مهربان دی،چې ترقیامت پورې دامجال پاتې نه وي چې څوک بیا درسول الله(ﷺ) دصحابه وو په باره کې له خولې ناسم لفظ قدري ووباسي،هرکله چې هغوی(ﷺ) ته الله (ﷻ) عفوه اوبښنه وکړه، او الله(ﷻ) ترې خپله رضاء اعلان کړه، نو بل څوک داسې نشته چې هغوی رضاء شي او که نه؟ دالله (ﷻ) درضاء اعلانولو وروسته دبل چا رضاء لپاره اړتیا نشته (رضی الله عنهم ورضواعنه)

په بدر غزاه کې دفدیې په اخیستو چې کوم عتاب نازل شوی و،دهغه وجه هم دا وه، چې د دخدای(ﷻ) د دښمنانو دقتل وقتال په ځای مال ومنال ته ولې ترجیح ورکړه.

هم داسې په احد غزاه کې هم د دنیاوي مال ومتاع (غنیمت) لورته دمیلان په وجه دا عتاب نازل شو، دکوم په اړه چې وروسته عامه ښښنه(عفوه) اعلان شوه.

دحَمراءُ الاسد غزاه:

قریش چې کله داحد نه بیرته ستانه شول، او له مدینې څخه لرې په "روحاء" نوم ځای کې لښکر واړول،هلته ورته دا خیال پیداشو، چې له مونږ څنې لویه غلطې وشوه، چې مجروح او مغلوب مسلمانان موهغسې پریښودل اوبیرته تري راغلو،هغه هدف چې دهغه پسې مونږ راغلي وو، هغه مو نیمګړی پریښود، که څه هم دمحمد (ﷺ) زیات شمېر ملګرې مو ووژل او لوی شمېر مو ټپیان کړل،خو هغه خپله (محمدﷺ) ژوندی پاته شوا!نو جرګه یې سره وکړه، اوپکې دا پریکړه یې وکړه، چې څو! بیرته په مدینه ناڅاپه حمله کوو،مسلمانان هسې هم مغلوب او مجروح دي، ټوله کیسه یې پای ته رسو،یواځې صفوان بن امیه په جر گه کې وویل: شه داده چې مکې ته لاړ شو، بیا به هلته پریکړه وکړو، اوس دمحمد(ﷺ)ملګرې دزیات قهراو غوسې نه ډک دي ،هسې نه تاسې پرهغوی دویم واري حمله کې بری ترلاسه نکړئ!

دا دشوال پینځلسمه نیټه، د شنبې ورځې او مابنام وخت و، چې قریش روحاء په نوم ځای ته ورسیدل،دیکشنبې په شپه هغوی پخپل منځ کې جرګه وکړه او دا پورته خبره یې خپل منځ کې سره غوټه کړه، دیکشنبې شپه لا سبا نه وه ، چې رسول الله(ﷺ) ته خبر وړونکي (مخبر) عین دصبح صادق په وخت کې دقریشو ددې نوې ارادې اطلاع ور وړه،رسول الله (ﷺ) ژر بلال(ﷺ) ته حکم وکړ، چې هغه په مدینه کې دا اعلان وکړي" هغه غازیان چې پرون له رسو ل الله(ﷺ) په غزاه کې شریکان وو، نن دې هغوی بیا ددښمن دتعقیب لپاره ځانونه تیار کړي"مجاهدین سره له دې چې ستړي ،ستومان اوله زخمونو څخه یې وینې بهیدي،دالله تعالی او درسول الله(ﷺ) د دعوت ځواب یې په "لبیک" سره ووایه.

جابربن عبد الله(ﷺ) راغی،عرض یې وکړ:

یار سول الله(ﷺ) زما پلار په احد غزاه کې شهید شو او ما دخپلو خویندپالنې له وجې په احد کې ګډون ونکړای شو،نن غواړم له تاسره یوځای لاړشم، ماته دتګ اجازه راکړه!

رسول الله(ﷺ) هغه ته دتګ اجازه ورکړه، درسول الله(ﷺ) هدف داو څو دښمن ونه فهموي چې مسلمانان کمزوري شوي ! اونور له جهاده ستړي دي ،سره ددي چې هغوی ستومان وو خو درسول الله(ﷺ) په امر ټولو ځانونه تیارکړل.

دشوال په ١٦مه نیټه، یکشنبې په ورځ رسول الله مبارک دمجاهدینو دلښکر سره تر "حمراءُ الاسد" نومي سیمې چې له مدیني نه اته میله لرې ده لاړل، هلته تم شول ، رسول الله

مبارک هلته (په حمراءُ الاسد) انتظاردرلود، په دې کې د خزاعه قبیلې سردار "معبد خزاعي" چې په احد کې دمسلمانانو له شکست څخه خبر شوی ، دتعزیت لپاره هغه رسول الله(ﷺ) ته راغی،د رسول الله مبارک سره یې داحد شهیدانو شهادت په اړه تعزیت وکړ، بیا د رسول الله(ﷺ) نه لاړ رخصت شو، دابوسفیان خواته لاړ، هلته یې هغه سره هم ولیدل،ابوسفیان ورته: په مدینه باندې د بلې حملې اراده څرګنده کړه! هغه(معبد) ورته وویل:

محمد(ﷺ) خو سر په وخت ستاسو په تعقیب ستاسو سره دجنګ لپاره ډېر لوی لښکر سره دمدیني څخه راوتلی دی،!!

ددې په اوریدو ابوسفیان ژر مکې ته ستون شو او رسول الله(ﷺ) هلته (حَمراءُ الاسد) نومي ځای کې درې ورځې تم شو،بیا دهم هغه ځایه دجمعې په ورځ مدینې ته ستون شو،په دې باره کې الله(ﷻ) دا ایت نازل کړ:

اَلَّذِينَ استَجَابُوا لِلّٰهِ وَالرَّسُولِ مِن بَعدِ مَآ اَصَابَهُمُ القَرحُ لِلَّذِينَ اَحسَنُوا مِنهُم وَتَقَوا اَجرٌ عَظِيم.(ال عمران ۱۷۲ایت)

هغه کسان چې حکم یې منلی دی دالله او(حکم یې منلی دی د) رسول(د) الله پس له هغه چې رسیدلی و دوی ته زخم(تکلیف مشقت)شته له پاره دهغو کسانو چې نیکې کړې له دوی نه (دالله دحکم په منلو سره)اوپرهیز ګاري یې کړېده،(له مخالفته) اجر ډېرلوی(جنت).

غرض داچې دمسلمانانو د دویم ځل را وتلو وروسته مشر کانو په مدینه ددویم واړې حملې اراده فسخه کړه، اوپه ډېره ورخطائي مکې ته وتښتیدل،مولانا شبیر احمدعثماني دمولانا شیخ الهند دعظیم الشان قرآن ترجمې په حاشیه کې لیکلي:

دغه مهال چې قریش کله مکې ته په منډو تلل،دعبد القیس دیوې تجارتي قافلې سره مخ شول،کومه چې مدینې ته تلونکې وه،ابوسفیان دقافلې سرپیوته پیسې ورکړې او هغوی یې دیته وادار کړل چې "تاسي په مدینه منوره کې داسې اخبار نشر کړئ، چې دهغو په اوریدو مسلمانان له مونږ څخه وویریږي،کله چې هغوی په مدینه کې داخبر مشهور اوخور کړ، چې مکیانو بیا یولوی لښکر اوډېر دجنګ توکي دمسلمانانو دمقابلې لپاره راټول کړي دي" په دې خبر سره دمسلمانانو د ډار او ویري په ځای نوره جهادي جذبه قوي شوه او دکافرانو دبیا راټولیدو خبر په اوریدو سره یې ﴿حَسبُنَا اللهُ وَنِعمَ الوَكِيل﴾ دګردې دنیا په مقابل کې مونږ لره یواځې الله کافي دی!

نوربیا ...

نامتو مسلمان فاتحين

نامتو تابعي ،د هرات او بلخ فاتح حضرت احنف بن قيس رحمه الله

[۵]حضرت عمررضی الله عنه احنف رح بشپړ کال خاري

کله چې حضرت عمر ﷺ ته نوی خلافت وسپارل شولکه دمخه يې کښه تيره شوه چې حضرت احنف رحمه الله له بصري ځخه دلس کسيز پلاوی سره راغی اودحضرت عمر ﷺ په مخکې ښکلی وينا وکړه چې له ويناځخه يې حضرت عمر ﷺ اغيزمن اواندښمن شو خکه نوموری به دتولني له هغو خيرک خوانانو اومشرانو اوخوږې ژبې له خاوندانو ځخه په زړه کې زياته اندښنه لرله اوفرمايل به يې : ((وإذا فَسَدُوْا كَانَ ذَكَاؤُهُم وَبَالاً عَلَى النَّاسِ)) کله چې دخيرکودماغ خاوندان فاسد شي نوبيايې پوهه د تولني له پاره دګټې پرځای سراسرزيان اوناسور وي. کله چې حضرت عمر ﷺ ته ددې تميمي خوان له مخکنی وينا ځخه يې ورته پياورتيا، خيرکتيا اوخدايې صلاحيتونه څرک معلوم شو له همدې امله حضرت عمر ﷺ سره داتلوسه اوليوالتيا پيداشوه .چې ددې خوان پالنه پخپله وکړي اودغه رازيې له نورو صحابه وو رضی الله عنهم ځخه هم د استوګنې په موده کې تربيه او ديني زده کړې هم ترلاسه کړي . اوله خان سره يې يوکال په مدينه منوره کې ايسارکړل.

حضرت احنف په خپله دامې کښه کوي : زه حضرت عمر رضی الله عه ته ورغلم اوهغه خان سره يوکال وساتلم اوسهار اوبيګاه مې ليدوته راته له يوه کال وروسته يې راته وويل : ته پوهه شوې چې يوکال مې دځه له پاره ايسارکړې وې ؟ ماسته ازموينه اخيسته پرمادې خبرې ښې ولګيدلې اوظاهري بڼه دې راته ښه وبرښندله غوښتل مې د باطن په اړه دې هم پوځه خان خبرکړم ، اوس مې باور راغې چې باطن دې له ظاهري خبرو اوينې يوشان دی اوداکارمې خکه وکړچې مور پيغمبرصلی الله عليه ددې امت په اړه له هوښيارمنافق ځخه ويرولې يو[1] . ای احنفه ! شکر وباسه چې له هغې دلې ځخه نه يې. اوبيايې رخصت کړم .

---

۱ - دغه حديث امام احمد په مسند ۲۲/۱ و ٤٤ کې روايت کړی دی.

[٦] : له حضرت عمر رضی الله عنه سره د حضرت احنف رح دوهم حُل ارزښناکه لیدا

حضرت احنف په دوهم حُل دحضرت عمر ﷺ لیدوته ورغی اویوه ښکلي مشوره ورکړه چې هغې مشوره داسلام تاریخ کې یونوی باب پرانیست اوهغه داسې چې :

((هرمزان)) دایراني لښکرنامتو،تجربه کاراوتکړه قوماندان و، نوموری دنورو جنګي قوماندانوپه پرتله دخپلې امپراطوري دټینګښت له پاره ډیرې هڅې کولې اوپه خورا سترمورال دمسلمانانوپه وراندې جنګیده اودجګړې په ډګرکې مسلمانانولومې جوړولې اوپه درغلي کولوکې یې زیات شهرت ګټلی و.

داسلامي لښکربرباوو نوموري زیاتره وخته سولې کولوته اړکړی و؛خوکله به یې چې بریا ولیده نوسمدلاسه به یې خپله ژمنه ماته کړه اوپه جګړه به یې لاس پورې کړ.

دمسلمانانولښکرچې کله د((نستر)) ښارکلابند کړ ؛نو((هرمزان)) یوې خوندي کلاته پناه یووړه اومسلمانانویې چې دنیولوهڅه وکړه نوهغوی ته یې په لور آوازوویل : ((له ماسره سل غښې دي ؛ نوکه هرڅوک ماته د را نژدې کېدوهڅه وکړي زه به یې پردې غښووولم اوتاسو خبریاست چې زما نښه نه خطا کیږي ، زه به په اسانه ستاسولاس ته درنه شم اوکه درخم نوپه تاسوکې به مې سل کسان وژلی وي)).

مجاهدینوورته وې ویل : ته څه غواړې .

هرمزان : زه یواځې ستاسو دخلیفه عمربن خطاب په لارښوونو عمل کوم اوهغه چې له ماسره کوم چلند کول غواړي نوزه ورته چمتویم

مجاهدین : ستاسو ورندایزمو ومانه .

ددې خبرې په اوریدو(هرمزان) خپله له غشو ډک ترکش وغورځاوه اوپه تیته غړی له کلا څخه راښکته شو. مجاهدینو هغه ونیو اودځوزره ورومجاهدینو ترڅارني لاندې یې مدینې منورې ته واستول شو. چې مشري یې دپیغمبرصلی الله علیه وسلم دخادم حضرت انس بن مالک ﷺ اوحضرت احنف رح کوله .

دمجاهدینودغه پلاوي له خان سره امیرالمومنین ته دبربا (فتحې زیږی اودغه رازدولچې (غنیمت) پنځمه برخه یې هم دبیت المال له پاره واخیستله .

مجاهدین چې مدینې منورې ته نژدې شول نوهرمزان یې په خپله بنه جوړ کړ، هغه ارزښناک وریښمین کالي ورواغوستل چې د زروکل کاري وربانديې شوې وه ، اوپه سریې تاج هم ورکښودچې قیمتي لالونه پکې لګیدلی و اودزرو باوکان یې هم دهغه مهال له عادت سره سم ورپه لاس کړل چې پر قیمتی ډبرې پکې لګیدلي وې.

دوی چې دوی دمدینې ښارته ننوتل نولیدوته کمکیان اومشران راتول شول اوتولو دبندي جاموته ډیرحیران وو . دوی لومړی ((هرمزان)) دحضرت عمررضی الله کورته ورساوه خوحضرت عمر ﷺ پرکور نه واوله پوښتنې

وروسته معلومه شوه چې نبوي جومات ته تللی دی . دوی چې جومات ته ورغلل هلته هم نوموری نه و اوځومره چې وخت ووت هغومره دخلکوګنه زیاتیدله . دغه مهال یوځوتنوکمکیانوورته وویل : حضرت عمر ﷺ دنبوي جومات نبی ځندې ته دونې لاندې ویده دی اوخپل ځادرپې سرته اپنی دی . دوی هرمزان دجومات نبی لورته روان کړ وې لیدل چې دمسلمانانوخلیفه ویده دوی په ډیره آرامي سره پې ترځنګ کښیناستل.

(هرمزان) په عربي نه پوهیده نوخکه ګومان هم نه کاوه چې دغه ویده سړی به امیرالمومنین وي ، خودومره پې اوریدلی وچې د مسلمانانو خلیفه ډیرساده ژوند لري اودنیاوی سینګارپې نه خوښیږي . خوله دې سره پې دومره ګومان هم نه کاوه چې هغه سړی چې دروم اوفارس امپراطوری له خاوري سره برابري کړي هغه دې د جومات په څنډه کې له کوم ساتندوی پرته په سپیرو خاوروکې داسې پې غمه ویده وي .

((هرمزان)) ګومان وکړه چې مسلمانان غلي ناست دي کیدای شي د لمانځه تیاری به کوي اودخپل خلیفه راتګ ته به انتظارباسي . دغه مهال حضرت احنف رح خلکوته اشاره کوله چې شور ونه کړي څودامیرالمومین خوب خراب نه شي خکه نوموري له حضرت عمر ﷺ سره یوکال تیرکړی ونوموري ته معلومه وه چې دشپې زیارته برخه کې حضرت عمر ﷺ وښنه تیروي داسې چې یادجومات په محراب اویاهم کور کې په لمانځه ولاړوي اودشپې زیاتره برخه دیاهم الله پاک پرعبادت رونه تیروي اویاهم دخپل ولس دحال اخبستوله پاره دمدیني په کوڅوکې ګرځي. خلکوته چې دحضرت احنف دچوپ کیدو اشاري زیاتې شوې : نودغه مهال ((هرمزان)) پوه شو اوله حضرت مغیره بن شعبه ﷺ څخه پې په فارسي پوښتنه وکړه چې :

هرمزان : داویده سړی څوک دی ؟

مغیره بن شعبه : دا امیرالمومنین حضرت عمربن خطاب دی .

هرمزان وارخطا لهجه وویل : همد اعمربن خطاب دی ؟ نو ساتندویان پې نشته !!! داخو پیغمبرباید وبلل شوی وای .

مغیره ﷺ : داسې پیغمبرانوپه پله روان دی اوپه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندې دنبوت لړی پای ته ورسېدله له هغه وروسته بل پیغمبرنه راځي.

خلک شېبه په شېبه زیاتېدل اودخلکوشور هم ورسره زیات شو چې له املې پې حضرت عمررضی الله عنه هم له خوب راویښ شو، دخلکوګډې ته حیران وبیاپې په ایرانی جنرال سترګې ولګیدلې چې قیمتي پاچ پې په سراوپه لاسونوکې پې دسرو زوردامې باوګان وو چې سترګې پې له خان سره ورلې اوپه دې سره نور هم حیران شو اوهغه ته پې په خیرسره وکتل اوبیاپې وېل :

داهرمزان نه دی ؟

احنف بن قیس : هو ! دا هرمزان دی .

دایراني جنرال پرتن پې دورښمو اوسروزسینګارولیده نومخ پې ترښه واړاوه اوبیاپې وفرمایل :

اعوذ بالله من النار .. واستعین به علی الدنیاء الحمدلله الذي اذل هذا واشیاعه للاسلام

دالله پاک دربارته ددوزخ له عذابه پناه غواړم اوپه دنیاوي چاروکې دالله پاک مرسته غواړم .

دالله پاک ستاینه چې هرمزان پې رسوا اواسلام په وراندې مات کړ.

ای مسلمانانو په اسلام منکولې ولکوئ !اودخپل نبي توښه مه هیروئ ، کورئ ! دنیا موتبرنه باسي ،هغه ډیره تبرابستونکې ده .

کله چې امیرالمومنین خبرې پای ته ورسولې :نوبیا حضرت احنف ورته د مسلمانانو د بریا زېری ورکړ اوپه دې غزا کې چې الله پاک کومه ولجه اوغنیمت په لاس ورکړی د هغه یادونه پې وکړه اوبیاپې وویل :

امیرالمومنین ! هرمزان مور ته خان په خپله وسپاره اوتاسو پې یادولې چې ماته کومه لارښوونه وکړې هغه به په دوارو سترګو منم اوپه دې لرکې تاسو ورسره په خپله ورسره خبرې وکړئ .

حضرت عمررضی الله وفرمایل : ښه پوره پې چې پرتن دغه دکبر اوغرور دغه جامه وي زه ورسره خبرو ته تیارنه یم ، ماته د غرور جامې خوند نه راکوي .

له دې لارښوونې سره دنومورې تاج اوورښمو جامې تړې لېرې کړل شوې اوله لاسونوپې باوه کان هم وه اېسته شول اوبیاساده جامې ور واغوستل شوې .

بیاحضرت عمرد((هرمزان)) لورته اشاره وکړه اووې فرمایل : هرمزانه ! ته ځومره درغلې کوونکې (چل باز) سړی پې ، ته ووایه خپله ژمنه دې ځوخله ماته کړه؟ اوس دې د خپلې ژمنې ماتولو پایله ولیده؟

هرمزان : مور اوتاسو دواړه د جاهلیت په زمانه کې سره یودول وو هغه مهال الله پاک نه له تاسو اونه هم له مور سره وو :خوکله چې تاسو اسلام ومانه :نوالله پاک له تاسو مرسته وکړه اوپرمور خواکمن شوئ .

عمر ﷺ : مور چې پرتاسو خواکمن شولورښتیاهم د اسلام له برکته دا کارترسره شو اودغه رازیوبل رازهم پکې و اوهغه داچې په لومړی سرکې ستاسو ترمنځ یووالی شتون لاره اومور سره بیلابیل اوترمنځ موبیلتون وو .

عمر ﷺ له دې وروسته په ډیره توروه تنده وفرمایل : هرمزانه ! ځوخلې دې له مور سره ژمنه ماته کړه اودخپلې بې وفایې له پاره څه خواب لرې ؟

هرمزان : زه وېرېږم چې تاسو مې مې وژنئ .

عمر ﷺ : داسې خبره نه ده ،اوس ته خوندې پې ترهغه چې مور ته رښتیا خبره ونه کړې .

ددې خبرې په اوریدوکه څه هرمزان ډاډه شو.

هرمزان : زه تړی یم ،ماته اوبه راکړئ ..

عمر ﷺ : اوبه ورکړئ.

اوبه ورته په یوه خیرنه پیاله کې راوړل شوې، پیالې ته پې په ډیر خیرسره وکتل اوبیاپې وویل : که زه له تندې وه هم مرم :خوپه داسې پیاله کې اوبه نه شم څښلای .

عمر ﷺ : په پاکه پیاله کې اوبه ورکړئ .

کله چې لوښه ورته راوړل شو نولاسونو په رړدیدو پیل وکړ.

عمر ﷺ : څه درباندې وشول؟

هرمزان : وبربږم چې اوبه مې له ستونې شکته شوې نه وي اوزه به ووژل شم .

عمر ﷺ : ترهغه دې نه وژنو خو دې اوبه څښلې نه وي .

له دې سره سره بیاهم د نوموري له لاسه هغه پیاله ولوېده او اوبه تولې په خمکه تویه شوې .

عمر ﷺ : نوري اوبه ورته راوړئ چې مرګ اوتنده يې سره یوخای نه شي .

هرمزان : اوبو ته مې ارتیا نشته زه دخپل سر خیر غواړم دخدای له پاره مه مې وژنئ .

عمر ﷺ : زه خودې ژوندی نه پریږدم . ستاسزا یواځې وژل (قتل) دی .

هرمزان : ماته ستاسو ملګرو ماته پناه را کړې.

عمر ﷺ : ته درواغ وایې .

انس بن مالک ﷺ : هو! امیر المومنین ! دی رښتیا وایې ده ته پناه ورکړل شوی دی .

عمر ﷺ : ای انسه ! داڅومره دافسوس خبره ده ، زه ستاسو دوروقاتل براء بن مالک ځرنګه پریږدم ؟ دغه ظالم د نامتو صحابي مجزاة بن ثور ﷺ قاتل هم دی .

انس ﷺ : تاسو ده ته ویلی وچې څوپورې دې حال ویلې نه وي ، او اوبه څښلې نه وي هیڅ به درته نه ویل کیږي .

احنف بن قیس ﷺ هم دحضرت انس ﷺ د خبرو پخلی وکړ. ناستو خلکو هم ددې خبرې پخلی وکړ.

عمر ﷺ په ډیر غصه هرمزان ته وکتل : له ماسره دې درغلي کړیده په خدای قسم دی زه دهیڅ مسلمان په هکله ددرغلي نه شم زغملای.

ددې خبرو په اوریدو هرمزان داسلام په مبارک دین مشرف شو او حضرت عمردنوموري دداډ له پاره ورته دوه زره درهم تنخوا وناکله.

[٦] : دحضرت احنف رح یوې مشورې د اسلامي تاریخ کې نوې باب پرانیست

پلاوی چې د ((هرمزان)) دسپارلوله دندې خلاص شول ،حضرت عمر ﷺ غوښتل چې له دوی سره دیوې سترې ستونزې په اړه مشوره وکړي اوهغه داچې : دحضرت عمر ﷺ په زمانه کې په عراق اودفارس په سیمو کې د مسلمانانوپرخلاف زیات پاڅونونه اوبغاوتونه کېدل چې حضرت عمر ﷺ ورته زیات اندیښمن و، حضرت عمر ﷺ غوښتل چې ددې اوښتونو اوستونزو اصلی لامل ومومي ، حضرت عمر ﷺ دپلاوي غړی د همدې سترې اوارزښناکې مشورې په موخه خانګړې ناسته وکړه اوحضرت عمر ﷺ له دوی څخه لومړنی پوښته داوه :

عمر ﷺ : ایا مسلمانان په فتحه شویو سیمو کې له ذمیانوسره ناوره چلند اوکه ځرنګه ؟ اوپرهغوی ظلم کوي ؟

پلاوی : مور دالله پاک په نامه لوړه کوو چې مور ته هیڅ داسې خای معلوم نه ده چې مسلمانانودې پرهغوی کوم تیری کړی وي ، اوبادې ژمنه ماته کړې وي

. اویادې له هغوی سره په کوم تړون کې درغلي کړي وي .

عمره ﷺ : نوبیا داڅه سبب دی چې کله هم د فارس خلکو ته موکه په لاس ورشي ؛ نو سمدلاسه بغاوت کوي اوخپله ژمنه ماتوي اوپرمسلمانانو برید کوي سره له دې چې ستاسو اوددی ترمنځ تړون هم شوی وي ؟

پلاوی ددې پوښتنې ځواب هڅه وکړه خو پرهغوی ځوابونه حضرت عمر ﷺ قانع نه شو اوهغه ځوابونه یې زړه ته ونه لویدل ،دغه مهال حضرت احنف رحمه الله ډیر ارزښناکه مشوره ورکړه اوداسې ویل : امیر المومنین ! که چیرته اجازه وي زه به درته حقیقت ووایم .

عمر ﷺ :مهرباني وکړئ . تاسو په دې اړه چې څه معلومات لرئ هغه وړاندې کړئ .

حضرت اخنف رحمه الله: تاسو موږ ته دایران پرخاوره باندې دبشپړې واکمنۍ څخه موږ ایسارکړي یو ، تاسو موږ ته لارښوونه کړیده چې موږ نیول شوې سیمې وساتو سره له دې چې دفارس پخواني ټولواک یزدګرژوندی په سیمه ګرځي ، دمسلمانانو په وړاندې دامهال ترټولو سترګواښ هغه دفارس همدا پخواني واکمن ((یزدګر)) دی ، هغه غواړي چې له لاسه تللي سیمې بېرته ونیسي ؛نوهغه خلک چې له موږ سره یې تړون کړی وي کله هم چې له کومه لوري مرسته ترلاسه کړي اویاهم چیرته چې دبریا څرک ووینې : او موکه ومومي : نو خپله ژمنه ماتوي اوټول په یوه خوله زموږ په وړاندې درېږي اوخلک بغاوت کولو ته همدی هڅوي څوپورې چې ((یزدګر)) ژوندی وي ؛نوزموږ پر خلاف به لومې جوړوي : څوپورې چې د((یزدګر)) رېښې وچې اوله فارس اوخراسان څخه ونه خیژي : نوموږ به تل له همداسې ګوښونکو سره مخ یو.

امیرالمومنین! په یوه هېواد کې دوه واکمن نه شي ځایدلای ، دا خبره د فطرت پرخلاف ده ، دا خبره ضروري دی چې یوپاچا به بل پاچا له هېواد شړي اویابه یې ورک کوي ، که تاسو موږ ته په فارس کې بشپړواک راکړئ اودغه رازد وړاندې تګ اجازه راکړئ څو دایران پخواني پاچا یزدګرپاتي واکم ونړو چې ورسره به دایرانی ولس هیلي له خپل پخواني پاچا څخه وخیژي ؛ نودهغوی ځواک به مات اوزموږ لاره په پا که شي اوبیابه زموږ په وړاندې هېڅ رازخند نه وي اودهرډول فتنې مخه ونیول شي)) .

ددې خبرې له اوریدو وروسته حضرت عمررض الله عنه دڅه وخت له پاره فکریوو اوله اوږدې چوپتیا وروسته یې وویل : احنف ددې ستونزې ښکلی اواری راویوست اونن ورځ په دې خبره په ښه توګه پوهه شوم چې زموږ په وړاندې ترټولو سترګواښ همدا دایران پخوانی واکمن دی)) .په همدې مشوره سره حضرت احنف رحمه الله داسلامي تاریخ یوباب پرانیست .

افغانستان ته دحضرت احنف رح راتګ

پاتي شته .....

حسن ژوی

پرنړیوالی میډیا دمذاکراتو ډنډوره

اوتر شایې مذموم اهداف

پر نړیوالې میډیا یو ځل بیا دطالبانو او دطالبانو دهغه دښمن چې ورسره بالفعل په جګړه کې اخته دي، تر منځ دمذاکراتو خبره ګرمه شویده.

لکه په تېرو وختونو کې چې څوځلې دښمن په ډېر مهارت او مکاری دمذاکراتو خبرې ته ډېره هوا ورکړیده او ورسره یو ځای یې دنړیوالو رسنیو له لارې داسې ډېر څه خپاره کړیدي چې پرې روان جهادي بهیر ته دتاوان او پر طالبانو دخپل ملت او اسلامي امت دبدګومانه کولو ناکامې هڅې شوې وې دا ځل بیا هم چې په رسنیو کې دمذاکراتو خبره ډېره ښکته پورته شوه نو ورسره یو ځای دسنجول شوي پلان له مخې داسلامي امارت اعتبار ته دتاوان رسولو او وړاندې دمسلمان امت او خپل ملت دبدظنه کولو لپاره ډېرې ناکامې هڅې وشوې امریکا دا ځل تردې حده ولاړه چې دتروریستانو دلست نه یې دطالبانو دویستلو پربکړه وکړه او بیا ورسره سم یې زمونږ دځنې ګاونډیو هېوادونو دمنځګړیتوب خبرې هم رامنځته کړې او دګنو نړیوالو غلامو رسنیو له لارې یې دا تبلیغات هم ښه په زور شور وکړل او کوي یې چې ګوا کې له طالبانو پرته بل کوم جهادي غورځنګ هم په سیمې او افغانستان کې قوت مومي چې دا دطالبان، دکابل اداره او امریکایان دړې واړه دځان لپاره خطره بولي او دهمدې خطرناک دښمن دلته سر راپورته کول دړې واړه یو بل ته سره نېږدي کړیدي.

موږ چې مسلمانان یو او دخپلو ټولو کامیابیو اصل راز دخپل مقدس دین په عملي وجود کې وینو سوله غوره بولو؛ خپل ملت او مسلمان امت ته دسولې او امن ژوند غواړو او بلا موجبه دبل چا دسولې او امن ژوند هم دخطر سره مخامخ کول نه غواړو دټولو خلکو لپاره دفطري قوانینو تابع دعدل او امن نظام او ژوند غوښتونکي یو او څوک چې په خپلې ارادې او اخلاص

زموږ دسوله یز ژوند دتحقق لپاره غږ او قدم پورته کوي له نیک نیت نه یې منندوی یو.

دا سمه ده چې خپل تېر تاریخ راژوندی کوو دخپل دښمن پرضد ښه په مېړانې جنګېږو او دا جنګ مقدس جنګ او ستر عبادت ګڼو خو جنګ زموږ طبعي خواهش او کومه محبوبه مشغله نده بلکې زموږ پر حریم ډېر ستر تېری شویدی، جنګ زموږ پسې زموږ کور ته راوړل شویدی؛ پرموږ هر تحمیل شوي جنګ کې موږ سترې قربانۍ ورکړیدي او دشرمونکې ماتې سره ددښمن دمخامخ کولو پورې مو داوږدې زمانې لپاره جنګونه جاري ساتلې دي.

داشغالګرو پرضد اوسنی جنګ هم ښه اوږد او له قربانیو ډک دی چې له نېکه مرغه دښمن مو اوس ډېرې شرمونکې او تاریخي ماتې ته ډېر رانېږدې کړیدی، نو دافغانانو په شمول دې ټول مسلمان ملت مطمئن اوسېږي چې دشکست په کمر ولاړ دښمن سره به اسلامي امارت هیڅکله داسې مذاکرات ونکړي چې پکې داهدافو نه کوچنۍ تېریدنه هم وي.

هغه مهال چې دوسایلو په لحاظ ډېر کمزوري وو او دښمن مو دومره قوي و چې چا یې دشکست تصور هم نه شو کولای موږ داهدافو نه وروسته نه شولو نو اوس به شکست خوړلي دښمن ته ولې داهدافو نه وروسته کېږو؟

زموږ روان جهادي مقاومت شعوري دی او اهداف یې خورا ډېر عالي دي؛ دمادي ګټو لپاره ندی او نه یې هم هدف دقدرت لاسته راوړل دي؛ دعالي اهدافو ترحصوله به زموږ دا بهیر جاري وي؛ دښمن مو چې په هر نوم یادوي موږ ته څه اهمیت نلري، دلته دامیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد حفظه الله ترقیادت لاندې په ډېرې کامیابۍ جهاد روان دی او دنړۍ ټول مسلمانان له دې قیادت نه مطمئن دي، دلته بل کوم جهادي غورځنګ نه سر راپورته کړیدی؛ نه یې کومه وېره شته او نه هم دلته چاته دجهادي صف دماتولو اجازه ورکوو او نه دا دومره څه ګڼو چې موږ خپل ستر دښمن ته نېږدې کړي.

زموږ دجهادي بهیر دټکني کولو او پرموږ دملت دبدګومانه کولو په موخه دوړاندینو مذاکراتو په اړه هم زموږ دښمن ډېر منفي تبلیغات وکړل خو بیا نړۍ ولیدل چې دمذاکراتو په نتیجه موږ دیو امریکایې فوځي په بدله کې دخپلو سترو مشرانو په را ازادولو وتوانېدو چې دا دامریکا لپاره داسې ماتې وه چې دامریکا په تاریخ کې ساری نه لري نو بیا که ددښمن سره مذاکرات کېږي ان شاءالله دهمداسې سترې لاسته راوړنې لپاره به کېږي او بس.

کاروان ذلت بار ضد جهادی!

سعید بدخشانی

نمیدانم چه مصیبت ومشکلاتي بر سر عدهء مسلمانان جهان به ویژه زعماء ومسؤلین امور در جهان اسلام وعلي الخصوص بر رهبران وقائدین جهاد افغانستان در برابر شوروي سابق و بر علماء درباریون آمده است،که با فراموش نمودن وپشت پا زدن به اصول ومقتضیات دین مقدس اسلام،طبق میل وخواسته هاي دشمنان اسلام و مسلمین(یهود ونصاري)در مقابله با اندیشه وروش جهاد،متاسفانه حرفها وسخنان را زمزمه وارائه مي کنند که مخالفین ومعاندین سرسخت اسلام ،در حق جهاد وسپاهیان سر بکف اسلام،همواره ورد زبان نموده اند!

وروز تاروز مشاهده مي گردد که تعدادي به اصطلاح از روشنفکران،با همکاري عدهء از سران کشور هاي اسلامي، باقلم، زبان،اقتصاد، سیاست ورسانه هاي دست داشته جمعي وخبري شان،ناعاقبت اندیشانه با کاروان خفت بار ضدجهادي ویاوران کوته نظر(صلح،آشتي ومدارائیکه درمتن آن ذلت مسلمین وبالادستي دشمنان خونخوار اسلام موج مي زند)مي پیوندند !

هریکي تکاپو وتلاش مي ورزند تا درین میدان سبقت نموده و مستحق تحسین ها وجوائزي شوند که دشمنان مکار اسلام،زیر عنوان ظاهري((عدم خشونت))ولي در واقع،براي تسلیم کنندگان سلاح جهاد وبلندکنندگان پرچم ننگین تسلیمي در برابر استکبار جهاني،آنرا تخصیص داده اند!

به ایـن مشـتي از مـردم گوشـزد بایـد کرد:هرچنـد کـه در کوتـاه مـدت،جرم ایجـاد مانع،درمسیر علم برداران سر افراز دیـن مقـدس اسـلام را مرتکـب میشـوید ولي در دراز مـدت بـا ادامه حرکت امواج،توفنده ومتحرکانهء جهاد کـه از آن به ((الجهاد ماضٍ الي یوم القیامـه)) جهـاد بـاقي ودایـم اسـت تـاروز قیامـت)تعبیـر شـده است،شماهم در ردیف کسانیکه لکه ننگین ((بـاز داشتن مردم را از راه خـدا)) آیـت) را بـر پیشـاني شان داغ مانده اند به سرنوشت ناکامي وتضیع اعـمال وسرانجـام بـه ذلـت دنیـا وآخرت مواجـه خواهیدشد.زیرا:کسـانیکه کفرورزیدنـد و(مـردم را)از راه خـدا بـاز داشـتند خداونـد اعـمال آنـانرا باطل میسازد)آیت

بلي!هرکسـیکه در راسـتاي عناد(بازداشـتن از راه خـدا)قرار بیگرد،خـواهي نخـواهي بـه سرنوشـت شـوم وتباهکن((اضـل اعمالهم)مواجـه خواهد شد،هرکسي که باشد،چه کـافر باشـدوچه مسـلمان چـه جاسـوس باشـدوچه غـلام چـه ایـن باشدوچه آن!

درین رابطه به روشنفکران وملایان درباریون که،احمقانه وطـوطي وار مفکـوره واندیشـه اصـیل جهادرا مترادف به خشـونت وجنـگ هـاي خشـک وبي هـدف دانسـته،وجهت پخـش ایـن مفکـوره جاهلانـه،در هـر صـفحه وهـر مجلس،قلـم فرسـاي وشـیرین کلامـي میکنند،بایـد فهماندکـه:بجاي رجـوع بـه آثار،نوشـته هـا وتبلیغـات مغرضـانه دشمنان کینه توز اسلام وبخصوص غربیها،کـه از ایشان متاثر شده اند،کمي تعقل وتـدبر نمـوده وفرصـتي را هـم در اختیـار قـرآن کـریم بگذارند،چنـدزماني قـرآن را تـوام باتـدبر تـلاوت نموده واز دین مقدس اسلام،خودرا بصورت کمـي وکیفي آن چیزي آگـاه ومطلـع بسـازند،آنگاه اگـر زمام امور را بدست خرد وعقل شان بدهند،ضـمیر وفطرت ایشان این را به صراحت اعلان خواهد کرد که:

واژه واصطلاح جهاد خشـونت نه،بلکـه ضـد خشـونت اسـت وبجـاي اینکـه مـردم بـا ایـن واژه مقابلـه کننـد.ایجاب میکنـد کـه درجهـت پخـش وگسترش هرچه بیشترآن سعي وتـلاش بـه خـرچ دهنـد بـه آنهـم سعي،کوشـش وجدجهـدي کـه غفلت وتنبلي هاي گذشته مبني بـر عـدم توجـه به این اصل را جبران کند!

خدمت زعماوروشنفکراني که خودرا مسلمان دانسته وهنوزهم درجهت دفـاع وپیـاده نمـودن ایـن فرمـان وحکـم خـیلي مهـم خداونـد دانـا

وباحکمت(جل جلاله)که پیامبر(صلي الله علیه وسلم)از آن به عنوان قله بلند دین یاد کرده اند،احساس مسؤلیت نمي کنند،باید عرض نمود اینکه:باوجود تبلیغات مسلسل وپیاپي دشمنان اسلام وهوادران بي مغز ونا عاقبت اندیش ایشان برضد شعارهاي اصیل وحیات بخش جهادوشهادت وبه ویژه متهم نمودن جهاد مقدس به خونریزي محض،بازهم برموقف حمایت،دفاع وادامهء این خط زنده ومتحرک،پافشاري نموده وبرتاکید در مسیرمنتخبهء خویش،دلایل قناعت بخش ومستدل ذیل را تقدیم کرده میتوانیم:

اول:متذکر بایدشدکه درقدم نخست،اسلام عزیز مي کوشد تا از طریق حکمت،موعظهء حسنه ومجادله احسن،داعیه خویش را بدون خشونت براي بشریت وبخاطر بني نوع انسان پیش کند،قسمیکه قرآن کریم مي فرماید(بخوان بسوي پروردیگارت به حکمت واندرز شایسته،وباایشان به وجهي که نیکوتر است به مجادله بپرداز)

دوم:ملتفت باید شدکه اسلام عزیز،باوجود لجاجت ها،سرکشي هاوتمرد عناصر کافر،مؤمنان را ذهناً در حالت قرار میدهد که حتي الوسع مفکوره تشنج وتصادم را از ذهن شان دور نگهداشته وبه امنیت وعافیت باندیشند، واگر نشد باز طبق فرمان حکیمانه نبي کریم صلي الله علیه وسلم که مي فرمایند:مقابل شدن بادشمن(درمصاف جنگ)را تمني وآرزو ننموده واز خداوند (جل جلاله)امن وعافیت بخواهید،ولي هنگامیکه بادشمن در جنگ ملاقي و روبرو شدید پس (در امرجهاد وکارزار بادشمنان اسلام)صابر وشکیبا بوده وخوب بدانید که جنت در زیر سایه شمشیرهاست).

لذا چونکه امروز مسلمانان در مقابل دشمن خطرناک وکینه توز اسلام ومسلمین(یهود ونصاري)قرار گرفته اند باید به هیچ وجه عقب نشیني نکرده ودر برابر پول ومناصب ناچیز دنیوي ووعداهاي دروغین آنان سرتسلیم نگزارند، بلکه مسلمانان باکمال متانت ودلیري با آنان به مقابله وکارزار خسته نا پزیر بپردازند،واز هیچ نوع قرباني وایثارگري دریغ نه ورزند،تاکه این دشمنان مغرور خدا،رسول الله ومؤمنان را رسوا وشرمسار از کشورهاي اسلامي خصوصاً از افغانستان بیرون بسازند.

سوم:قرآن کریم در اولین دستور وحکم خود جهت برداشتن شمشیر جهاد که طي آن ظلم

وتعصب دشمنان اسلام،را مبني براينكه مسلمانان صرف بجرم انتخاب وگزينش خداي يكتا به عنوان (پروردیگار)ازخانه هايشان اخراج ميشوند،نشاندهي نموده وچنين اذن واجازه قتال ميدهد،دستورجهاد داده شد آناني را كه(كفار)بايشان مي جنگند،بنا براينكه مظلوم واقع شدند،وخداوند(جل جلاله)به ياري ايشان تواناست،آناني كه بيرون آورده شدند از خانهايشان به ناحق،به سبب اينكه گفتند پروردیگار ماخداست.ايت) به اين دفاع محض هم اكتفا نمي كند،بلكه بخاطر نجات همه مستضعفين از چنگال عناصر ظالم وستمگر،اكيداً دستور داده وبطور جدي از ايشان مي خواهدكه،چرا در راه خدا(جل جلاله)وبخاطر مردان وزنان وكودكان ناتواني كه مي گويند،اي پروردیگار ما،مارا از اين قريه ستمگاران بيرون آر واز جانب خود يار ومددكار قرار ده،نمي جنگيد؟.

چهارم،اين نوع جنگي كه بخاطر دفاع از خود،دين وسرزمين خويش وجهت نجات اشخاص بجا مانده صورت بيگرد،جنگ محض نه،بلكه جنگ مقدس وجهاد في سبيل الله ميباشد،كه اسلام عزيز تا سرحدوغايت،تاكه فتنه باقي نماند) وتاكه جنگ سلاحش را برزمين بگذارد)بر ادامه آن تاكيد مي ورزد.

در همچو حالتي جنگ نه تنها جائز بلكه فرض مي شود،آنگاه خدمت بزرگ براي بشريت ومسلمانان آنست كه زمين را به خون آن ظالمان تاريخ سرخ ورنگين بايد كرد،ومردم مظلوم وبيچاره را از شرآن ظالمان وفتنه پردازان نجات بايد دا د،آنانيكه دسته شيطاني را تشكيل داده وبر فرزندان آدم از لحاظ اخلاقي،روحاني ومادي مصيبت هاي تباه كني را به بارآورده اند،بايدكه صفحهء هستي را از لوث وشر آنان پاك نموده و وراثت زمين از آن مردمان نيك وصالح شود.



شکست امریکا خوړلی ، که طالبانو؟

که ځمکنیو واقعیتونو ته وله کتل شي، نو دا یوه ګرانه پریکړه ده چې وویل شي ، په افغانستان کې ماتي چا خوړلې؟ امریکایانو ، که طالبانو ؟ دا ځکه چې بشپړ فطرت دا دی چې شکست خورده هم ډېر وختونه د بریا دعوی لري . انګریزي استعمار پخپل زعم دا نه تعبیروي، چې د افغانانو د توري په وراندي یې شکست خوړلی ، او د امپراتوری زوال یې له همدي تورزنو ، جهادی غرونو او درو نه ، پیل شوی ، بلکې وایی چې پخپله خونبه یې د ډیورنډ لاین او بیا د هندوستان د ویشلو د یو تعهد په پایله کې له دې سیمې پښې سپکې کړیدي . روسان هم تراوسه داسې وانمود کوي، چې دوی د جنیوا د معاهدې په اساس له افغانستانه وتلي دي . عیناً همدا خبره د امریکا او ناټو هم ده، چې وایي افغانستان ته بس د همدومره وخت لپاره راغلی وو. نور یې هدفونه ټول ترلاسه کړي او اوس بیرته روان دي ، دا نه منې چې ووایي ، ګویا د طالبانو په وراندي یې بدترین شکست خوړلی دی . خو زمینې حقایق بیا بل څه وایی ،چې هر باشعوره وګړی یې ادراک کولای شي .

اوس موږ له یو بل پلوه هڅه کوو، چې د دې خبرې حقیقت معلوم کړو ،چې شکست خورده څوک دی ؟ د دې لپاره به د ځینو عامو امریکایانو او نورو غربي وګړو ځینې نظریات ولولو، چې هغوئ امریکایي یرغلګرو ته ځنګه خطاب کوي .

جنوبي افریقي الاصله امریکایی Tony Karon د Time مشهوري امریکایی ورځپاڼې د نړیوالو چارو شنونکی دی . نومورې ډېره موده وراندي یوه مقاله تر دې سرلیک لاندي ولیکله چې : آیا امریکا په افغانستان کې خپل شکست منې کنه ؟ ده پخپله مقاله کې د امریکا ماتي په ډېرو پخو او اوږدو دلائلو تثبیت کړي او هم یې له لوستونکو نه د نظرونو غوښتنه کړیده . بالاخره ټونی کارن د خپلې لیکنې په پای کې د لنډیز په بڼه وایی :

In the absence of "victory," Two alternative strategies have been proposed: training the Afghan security forces, political settlement with the Taliban. But training Afghan forces, which cost $۱۲bn in ۲۰۱۰ alone, will not guarantee their future loyalty to a Kabul government. Two years and many regional conferences have passed since the formation of the Afghan Higher Peace council, but there is no sign that, the

Kabul government or its neighbors will reach a deal. So there is no military solution, and no political solution.

... کله چې فتح او برېا هیڅ وجود نلري ،نو امریکایانو ته متبادل دوې لارې پاتې دي ، چې هغه هم ناکامه ښکاري ، د افغان ځواکونو روزنه ، او یا هم له طالبانو سره سیاسي جوړجاړی . مګر د ځواکونو پر تربیه چې ۱۲میلیارده ډالره ولګیدل، بیا هم هیڅ تضمین نشته ،چې هغوی دې وړتیا ولري او یا دې وفادار پاتې شي ، دارنګه د سولې په نامه د عالی شورا له جوړښت سره ډېرې غونډې او کنفرانسونه دایر شول، مګر هیڅ ځرک ترسترګو نشو، چې یو حل دې را ووځي . لنډه داچې نه پوځي او نه سیاسي حل ته لاره پیدا شوه ... د لیکوال له دې خبرې نه دا څرګنده شوه ،چې ګویا د امریکا د شکست لپاره ترټولو غټ ثبوت همدا دی ....

بل اړخ ته د یوشمېر نورو امریکایی وګړو نظرونه داسې دي :

جوزیپ اولسون (Joseph Olson) وایی :

The issue is this, a country who ran Genghis Khan out. How did we ever expect to win? Genghis Khan had a far heavier appetite for war than the U.S. ever did.

Wake up people they have never bowed to anyone in that country. We need to realize...

... خبره دا ده ، یو هیواد چې هغه ، چنګیز زغلولی وي ، پر هغوی باندې به مور د برېا څه امید کوو ؟ چنګیزخان د امریکا به پرتله جنګیالی او ځواکمن وو ، ویښ ملت هیڅ چا ته سرټیټ

کړی نه دی ، مور ارتیا لرو چې پرخپل کار له سره غور وکړو ...

د quackula په نوم امریکایی داسې لیکي :

The U.S. Government my not admit defeat but the American people are ready too and want to get out.

... د امریکا حکومت ښایی په ښکاره ماتي ونه مني خو امریکایی ولس تیار دی ، او هم غواړي چې ژر تر ژره ځان له افغانستانه وباسی ...

یو بل امریکایی داسې لیکي :

Unfortunately US selected a corrupt regime to execute their short term goals

which is surely going to be disaster for the whole region.

... بدبختانه امریکا په افغانستان کې داسی یو کرپټ او فاسد رژیم ځای پرځای کړ چې فقط د څو لنډه مهاله شخصي ګټو په لټه کې دی ، بل هیڅ نه ، دا به یقیناً د ټولې سیمې لپاره یو لوی ناسور وي ...

یو بل امریکایی کارن وایی :

For weeks now the Taliban website keeps saying,"U.S has faced utter defeat in Afghanistan". How Humiliating!!

... اوس همیشه طالبان پر خپلو ویبپاڼو وایی : امریکایان له سخت شکست او ماتې سره مخ دي . دا څومره د ذلت خبره ده. زموږ لپاره ...

په نامه امریکایی داسی وایی : Snowleopard

We have already lost the war - its time to accept it, admit it, and get our troops home before any more die. It's not the failure of the soldiers in any way; its the political leadership of the nation that has failed them.

... موږ جګړه بایللې ، اوس وخت دی چې وینې منو ، شکست تسلیم کړو او خپل پوځونه بیرته خپلو کورونو ته مخکې له دې راولو چې نور ووژل شي . هو دا شکست مو د عسکرو نه دی په هیڅ صورت ، بلکې دا مو د ملت د سیاسي مشرتابه اشتباه ده چې دوی یې ناکام کړل ...

یو امریکایي وګړی خپلو واکمنانو ته د یو پښتون هوښیار افغان په نقل قول سره داسی وایی :

Many years ago, an Afghan gentle man quot about the Afghanistan ,, (You will come here with your will...but return with our will.)

... تاسو به دلته راځئ په خپله خوښه ، خو ځئ به بیا زموږ په خوښه ...

مخکې مو وویل : چې که له ځمکنیو حقایقو وړتیر شو او دې ته ونه ګورو چې ، د ۱۴کاله امریکا د ۴۰ نظامي قدرتونو په ګډون پر یو ډیر کمزوري او ناتوانه هیواد باندې په ډیر غرور سره حمله وکړه ، او چې څومره ټیکنالوژي او څومره وس یې وو ؛ هیڅ یې دریغ نه کړل ؛ بمبارونه ، قتلونه ، ځمونه ، آسارتونه ، تعذیبونه ، بندیزونه او نور هرڅه یې په کار واچول بیا هم د مجاهدینو په ورک کولو بریالي نشول ، لویه خبره دا چې د مسلمانانو د مورال په ځپلو ونه توانیدل ؛ بالاخره یې له تیښتې پرته بله لاره ونه موندله :. نو اوس پریکړه تاسو کولای شی چې شکست خورده څوک دی ؟ امریکایان ، که طالبان ؟

د جهاد فقهي مسائل

جهاد کې محرمات او مکروهات

مفتي ابومحمد (حقاني)

د(کفارو) دمواشيو ،وسلو،کښتونو،ونو اودشاتو دمچيوسوځول او له منځه وړل :

کله چې کفارو ځانونه جنګ ته چمتوکړل اويا جنګي کلاګانو (بالاحصارونو)ته وختل، نومجاهدين به هم دالله جل جلاله په مرسته ورسره ځانونه جنګ ته تياروي او جهاد به ورسره کوي ، دکاميابۍ په فکر به ورسره جنګيږي ،که څه هم ددوئ دمالونو ياحيواناتودله منځه وړلو خطر هم وي، نو به هم تري دريغ نکوي ،فقهاء رح فرمايي :چې که چيرته ددوئ دمالونو له اتلاف څخه په غير پرې سوبه شوني وه، نو به يې بيا مال له منځه نه وړل کيږي ،که غالب ګمان پکې داوه ،چې پردوئ فتح يا بری ددوئ داموالويا مواشيو داتلاف څخه په غير ممکن دی ،نو بيا يې دمالونو له منځه مکروه دي ،ځکه چې داله اړتيا پرته يو ډول افساددی او دا ددې اړتيا څخه په غير ندی جايز،اصل مقصود ددوئ شوکت او دبدبه له منځه وړل دي او ددوئ غيظ او غصه ده ،نوکله چې په غالب ګمان ددوئ دمالونو دهلاکت نه په غير کيږي ،کراهت پکې پيدا شو ،فايده به يې داوي ، چې دا ډول مالونه به مجاهدين له ځانونو سره هيواد انتقال کړي اوکه له منځه يې يوسي، نوځه ډول ګټه پکې نه ليدل کيږي .

دکفارو دونو(اشجارو)او کښت پرې کول او له منځه وړل

په(الموسوعة الفقهية) کې ليکي: چې ونې او فصلونه په دري ډوله دي ،يو هغه دي، چې ددې اتلاف او پرې کول يوډول ضرورت وي ،لکه داچې دکفارو جنګي کلاګانوته نږدې وي ،دوئ دمجاهدينوله قتال څخه ساتي ،کفار ددې ونو شاته له مجاهدينونه پټيږي ،ياهم ورته دلارو دپراخيدوپه موخه اړتيا وي اويا يې اهل حرب دهمدې مقصد لپاره کړي او نهالوي ، چې همداسې استفادي تري وکړي اوځانونه پرې وساتي ،نو دداسې ونو يا اشجاروغوښول او پرې کول له کوم چا داختلاف پرته روا دي او مشروعيت لري .

دويم قسم : هغه وني او کښتونه دي، چې مسلمانان يې ميوه او ثمره خوري ،يايې سيوري ته دمه او استراحت کوي او ياهم خپلو مواشيو ته تري وابنه او علوفت کوي، نوددې دول ونواو فصلونو اتلاف حرام او ناروا دی .

دريم قسم :هغه وني اوفصلونه دي ،چې نه پکې مسلمانانوته ضرر شته او نه پکې کفاروته ګټه شته، بلکې صرف دکفارو غيظ او غصه پرې زياتيږي ،نو دې کې حنابله علماوو رح دوه قوله کړي، چې يوه قول کې روا او بل کې ناروا بولي ؛ په يوه کې ورسره امام مالک او امام شافعي رح هم ملګري دي ،هغه داسې چې لومړي قول کې حنابله وايې :چې دداسې ونو او فصلونو غوښول هم روا دي ،چې امام مالک رح او امام شافعي رح هم ورسره پکې همنوا دي ،دليل کې دابن عمر رض هغه حديث شريف دی ،چې رسول الله صلى الله عليه وسلم دبنونضيرو خرماګاني وسوځولې، دحديث عبارت داسې دی : روى ابن عمر رضي الله عنهما « أنّ رسول الله صل الله عليه وسلم حرق نخل بني النّضير »همداسې په دې آيت کريمه هم استدلال کوي چې : {مَا قَطَعْتُم مِّن لِّينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَائِمَةً عَلَىٰ أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ اللَّهِ وَلِيُخْزِيَ الْفَاسِقِينَ} .

دويم قول دحنابلو دادی: چې دداسې ونو او فصلونو اتلاف يا له منځه وړل ندي روا ،دليل کې يې دابن مسعود رضى الله عنه داحديث راوړي چې " لما روي عن ابن مسعود رضي الله عنه أنّه قدم عليه ابن أخيه من غزوة غزاها ، فقال : لعلّك حرقت حرثاً ؟ قال : نعم ، قال : لعلّك غرّقت نخلاً ؟ قال : نعم ، قال : لعلّك قتلت صبيّاً ؟ قال : نعم ، قال : لتكن غزوتك كفافاً " .ژ:دابن مسعود رضى الله عنه څخه روايت شوی ،چې دده وراره له يوې غزوې نه راستون او ده ته ورغی ،نو ابن مسعود رضى الله تري وپوښتل :چې کښت به دې سوځولی وي ؟ده ورته وويل چې هوابيا يې تري وپوښتل :چې دخرما وني به دې هم غرقې يا له منځه وړې وي ؟ ده ورته وويل چې هو،بيا يې تري وپوښتل :چې ښايې ماشوم به دې هم وژلی وي ؟ وراره يې ورته وويل چې هو،نو ابن مسعودرضى الله عنه ورته وفرمايل چې بس دا غزا ستاددې کارونوکفاف يا بدله شوه .يعنې دې کې محض اتلاف او اهلاک منځ ته راغی اودا داسې ندې جايز، لکه دحيوان ګودول يا تري پښې او لاسونه پرې کول چې ندې روا ؛همدا قول دامام اوزاعی رح ،ليث رح او ابو ثور رح هم دی .

دکفارو دمواشيو ياحيواناتو وژنه :

په الموسوعة الفقهية کې ليکي :چې دجنګ پروخت دکفارو دحيواناتو وژنه يا قتل روا دی ، او دې کې دچا اختلاف نشته ،داځکه ددوئ دحيواناتوقتل دکفارو دقتل او شکست موصل او سبب ګرځي ،او مالکيان رح خولا داهم وايې :چې که چيرته ددوئ په دين کې دمردار حيوان خوړل حلال وي، نو بيا ارجحه مسئله داده، چې وجوباً دا حيوانات تر وژلو وروسته وسوځول شي ،او بل قول چادا کړی ، چې دې

حیوانـاتو تـه لـه ورسـتنیدو مخکـې کـه ورتـه کفارستنیدل، نو بیا یې احراق یا سوځیدل واجب دي ،که نه بیا ندي واجب .

دحرب او جنګ لـه حالـت نـه په غیردکفـارو دحیواناتو(اوښانو ،غوایانواو پسونو) دعقر (ژوبلول یا یـې پښـې پریکـول) پـه هکلـه (الموسـوعة الفقهیـة /ج۱۷ص۱٦٦)کې داسې لیکي : وأمّا في غـیر حالـة الحرب : فذهب الحنفیّة والمالکیّة إلى أنّـه یجـوز عقـر دوابّهم ، لأنّ فیه غیظا لهم واضعافا لقـوّتهم ، فأشـبه قتلها حال قتالهم . ویرى الشّـافعیّة والحنابلـة أنّـه لا یجوز ذلك مطلقا ، «لنهیه صلى الله علیه وسـلم عـن قتل الحیوان صـبراً»، ولقـول الصّـدّیق لیزیـد بـن أبي سفیان وهو یوصیه : ولا تعقرنّ شجراً مثمراً ، ولا دابّة عجماء ولا شاة إلاّ لمأكلة .خلص مطلب :دجنګ له حالت څخه په غیر دکفارو دحیواناتودعقر(ژوبلولو یا یې دپښو غوځولو) په هکله احنافورح اومالکیانورح دې ته ذهاب کړی، چې دکفارو دحیواناتو عقر (پښې اولاسونه پرې کول) جایز دی ،داځکه چې دادکفارو دغیض او غضب سبب کیږي اوددوئ قوت پرې کمزوری کیږي ،نوداد دوئ دهغه قتل شره مشابه شو، چې دجنګ او محاربې په حالـت کـې وي او دشوافعورح او حنابلو رح قول دادی ،چې مطلقاً ددوئ دحیواناتو عقر یا ژوبلول جواز نلري اودلایل یې دادي ، یوداچې نبي علیه الصلوة والسلام دحیوان له قتل څخه منع کړي (شاید ددلیل وجه داسې وي ،چې قتل یې ناروا شو، نو پښې ترې پرې کول هم ناجایز دي)اوبل داچې حضرت ابوبکر صدیق رضی اللّٰه عنه (یزیدبن ابي سفیان خپله توصیه کې وویل چې :میوه داره ونه به نه خرابوي(له مینځه به یې نه وړي او نه به یې ښاخونه پرې کوي)،نه به دحیوان عقر کوي اونه به دپسه کوي ،مګر دخوراک لپاره یې کولای شي ،یعنې که چیرته حیوان ته دخوراک ضرورت وي ،نو بیا یې حل شته که نه نشته .

